

انجينر محب الرحمن « خطيبي »

د نشرنيټه : 25 جولای 2017 م

ترخه خبره

د علم کور چې ورانوو دابه مو حال وي
چې په توپک بې بدلوو دابه مو حال وي

قدر او عزت په ځای، خيانت کوو مونږ
چې يې پردو ته خرڅوو دابه مو حال وي

نفس ځنځير باندی تړلی ښه دی
که يې شيطان سره تړو دابه مو حال وي

نور د دښمن سيوری په ډزو ولي
چې ورته لاس خپل ورکوو دا به مو حال وي

توره تياره ده مونږ يو بل نه وينو
رڼا د پوهې چې شړو دا به مو حال وي

وطن مو سوځي ، کلی کور مو سوځي
محب وايي اور چې بلوو دابه مو حال وی
***
محب الرحمن « خطيبي »

بازگشت به صفحه اصلی www.said-afghani.org